UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

یوناما د خپلې ګټورتیا د لا زیاتیدو په موخه د ستراتیژیکي ارزونې هرکلی کوي

کابل، د ۲۰۱۷ کال د مې ۷ مه – د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی یوناما دا اوونۍ د امنیت شورا له غوښتنې سره سم د یوناما د ستراتیژیکي ارزونې په موخه د یوې ډلې کارپوهانو د لیدنې هرکلی کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي تدامیچي یماموتو وویل: دا د یوناما د تشکیلاتو او عملیاتو لپاره یوه غوره موقع ده، څو په جدي او رغنده توګه وارزول شي. ښاغلي یماموتو چې د یوناما مشر هم دی زیاته کړه: موږ په دې وروستیو کې د امنیت شورا له لوري د یوه بل کال لپاره غځیدلی او نوی ماموریت ترلاسه کړ. موږ زمن یو څو پر موږ شوی باور ژوندی وساتو او هیله من یو څو وینو چې دا ارزونه د افغانانو لپاره زموږ له کار سره نوره هم مرسته وکړي او لا زیات ګټور او اغیزناک شي.

د ارزونې ډلې مشري د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال او د یوناما پخوانی مشر یان کوبیش کوي چې په راتلونکي اوونۍ کې به له ګڼو ملي او نړیوالو همکارانو سره لیدنې کنتي ولري. ټاکل شوې دا ستراتیژیکه ارزونه د ۲۰۱۷ کال د جولای په لومړیو کې د امنیت شورا ته وسپارل شي.

د ۲۰۱۷ کال د ۲۳۴۴ ګڼې پریکړه لیک په ترڅ کې د امنیت شورا د ستراتیژیکي ارزونې غوښتنه وکړه څو د یوناما د ماموریت دندې، لومړیتوبونه او اړونده سرچینې وارزوي او همدارنګه د ماموریت د ګټورتیا او اغیزناکتوب جاج واخلي.

د یوه سوکاله او با ثباته افغانستان لپاره د یوناما لید لوری دا دی چې په سوله کې له ځان او ګاونډیو سره ژوند وکړي، د افغان وګړو بشري حقونو تامین وي او بنسټیز خدمتونه ټولو ته د لاس رسي وړ وي.

د یوناما ماموریت په افغانستان کې د سولې او ثبات د ترلاسه کولو د هڅو ملاتړ کوي. همدارنګه کار کوي څو د قانون حاکمیت او یوه حساب ورکوونکي حکومت تضمین کړي. همدارنګه د سولې، حکومتوالۍ او پرمختیک په برخو کې د افغان حکومت د لومړیتوبونو او نړیوالې ټولنې تر منځ د ښې همغږۍ او همغږیتوب مشري کوي.

د یوناما په ټراو نور معلومات دلته ترلاسه کولی شئ: https://unama.unmissions.org/about

* * *

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چاري وراندې کوي. "د ښه نیت چاري" هغه دیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي دول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داری د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږۍ پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.